محمد حامد الوتاند

۲۰۱۴/۰۳/۲۷

ای ډالره زوروره برېتوره سنوره

خوشبویی د په هر لوري
هم دا ستا مشک او عنبره
ټول داستا سنا صفت کړي
وه هر چا ته معتبره

ای ډالره زوروره

ته بې توري توریالی یې
ته بې توري توروره
دهرچا ښکر د مات کړي
تا بې ښکرو ښکروروره

ای ډالره زوروره

زور د ټولو ته څرګند دی
نشته ستا څوک برابره
همدا ستا فرمان چلېږي
د نړۍ په بحر او بره

ای ډالره زوروره

ستا د مینې دا اثر دی
لکه جام کې د کوثره
څوک د ټینګې درته ندي
که عامي دی که ملا دی که رهبره

ای ډالره زوروره

چې مطلب یې ستا حاصل وي
یا یې څه په لاس راوړل وي
هر، هر څه کې یې چل ول وي
نه صرفه په عقیده کړي نه کلچره

ای ډالره زوروره

د چا لار د زنده ګی شوي
چا ته راز د بنده ګی شوي

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

هم میعیار د هوښیارۍ شوي
واړه خلک کاندي پورته معتبره

ای ډالره زوروره

ته بلا زمونږ د وخت یې
په رېښتیا یې پاړوګره
د کافر نه ملا جوړ کړي
د ملا نه ته کافره

ای ډالره زوروره

حریفان د ټول بګېل کړل
تا ددې زماني نره
ټول د لارې ته سم کړي
هم بې ږیرې ږېږوره

ای ډالره زوروره

منم پوهه ستا غښتلي
تر آسمانه رسېدلي
په مریخ کې ده رپانده
ستا جنډه اوس شملوره

ای ډالره زوروره

له اوزو نه جوړ زمري کړي
د زمري نه جوړ ګیدړه
لډران لیډره وی شي
پوه مشران کاندي لډره

ای ډالره زوروره

که دا ستا خوښه قضأ وي
خره مشران مو کړي پر سره
او که ستا رضأ پرې نوي
هوښېار، پوه کړي لنډه غره

ای ډالره زوروره

لکه خوري چینجي په ګور کې
یو تر بل نه بد بدتره
ځناور نه جوړ سړی کړي
روغ سړی کړي ځناوره

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

که پر تا څوک زړه در بائېلي
بیا شي روږدي تر آخره
افغانان شول په تا روږدي
که په لر دي که په بره

ای ډالره زوروره

د پښتون د زړګي سره
اوس نو چېرې ځي دلبره
ستا په نشته کي به دلته
هرڅه چور شي بېا له سره

ای ډالره زوروره

لاس په نوم درته ولاړ دي
لکه مونږ ټول ستا په دره
ستا د مینې مرتبې ته
زما حامد نشی باوره

ای ډالره زوروره

له هوښیارو مروره
په ناپوهو یې زړوره
عاقبت دې خراب وینم
ستا منطق دی زور او زره

ای ډالره زوروره برېتوره سنوره

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ